# مور د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره پیشلمی وکړ، بیا لمانځه ته پاځېده، ما وویل: د اذان او پیشلمي تر منځه څومره وخت و؟ هغه وویل: د پنځوس آیتونو په اندازه

د زید بن ثابت رضي الله عنه څخه روایت دی وايي چې: مور د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره پیشلمی وکړ، بیا لمانځه ته پاځېده، ما وویل: د اذان او پیشلمي تر منځه څومره وخت و؟ هغه وویل: د پنځوس آیتونو په اندازه.

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

ځینو صحابه کرامو د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره پیشلمی وکړ چې بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم د سهار لمانځه ته پاځېده. نو انس زید بن ثابت رضي الله عنه ته وویل چې: د اذان او د پیشلمي د پای تر منځ څومره وخت و؟ نو زید رضي الله عنه وویل: لکه د پنځوس درمیانه آیتونو د لوستلو په اندازه، نه اوږده او نه لنډ آیتونه، نه په ډېره تیز او نه په ډېر کرار سره.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4457

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee